سلام خان ۲۰۱۱/۱۱/۱۰

# استاد سیاف: په افغانستان کی جگړه د بهرنیانو په ضد نه ده

یو شمیر دولتي چارواکو اومخکنیو جهادي رهبرانو چې د احمد شاه مسعود د شهادت په لسم تلین کې یې خبرې کولې، ټینګار وکړ، چې د اوسني جنګونو او بهران اصلي لامل د بهرنیو موجودیت نه بلکې جنګ د ټول هیواد په سطح سازماندهي شوی دی، د ولسمشر لومړي مرستیال مارشال محمد قسیم فهیم اوسنی وضعیت بهراني وباله او ویې ویل چې اوسني نظام  ونشو کولای څو موجوده ستونزې ته د حل لاره پیدا کړي، د هغه په وینا ضرور ده چې په هیواد کې ملي زعامت رامنځ ته شي څو موجوده ستونزو ته د پای ټکي کیښودل شي. قسیم فهیم همدا راز وویل چې اوس مهال دولت د دغو ستونزو د پای ته رسولو په موخه هر لوري سره مذاکرې ته چمتو دی، زه د دولت له خوا، د ولسمشر په استازیتوب تاسې ته ډاډ درکوم، چې مونږ د ستونزو د له منځه وړلو او هر ډول مذاکرې ته چمتو یو او د افغانستان د خلکو لپاره دا زما پیغام دی، چې موږ یواځې یوه لاره لرو، چې د مذاکرې، بحث، زغم او یو بل قبلولو له لارې خپل ځانونه جوړ کړو او له دې اوسني حالت نه ځان او خپل هیواد وژغورو.

سیاف،  رباني او  محقق په وار سره د غونډې نور ګډون کوونکي وو، چې دوی هم په هیواد کې اوسني بهران ته اشاره وکړه او له دولته یې غوښتنه وکړه څو مجاهدینو ته د ملي اردو په لیکو کې د ګډون حق ورکړي.

عبدالرب رسول سیاف د افغانستان اوسني جنګونو ته په اشارې سره وویل، اې وروره ته چې ډیر ځان ته مسلمان وایې، له اوله بهرنیانو بده وړې، ایا ته په خپله په بهرنو پیسو نه یې جوړ شوی، د افغانستان د جهاد په مقابل کې د چا له خوا اماده شوی یې؟ جګړه مخکې له بهرنیانو هم وو، له بهرنیانو وروسته به هم وي او دا دی د بهرنیانو په شتون کې هم دوام لري، دا جګړه د بهرنیانو په ضد نه دی، دا جګړه د افغانستان په ضد دی او دا جګړه د دې مجاهد هیواد د ژوندي پاتی کیدو په وړاندې دی، په نوموړی غونډه کی ټولو وینا والو په دی ډیر ټیګار کاوه چی اوس افغان ولس ته د افغانستان د ښیرازۍ او نیکمرغۍ یوازې یوه لار ورپاتې ده او هغه په خپلو کې وروروليِ، یووالی، تفاهم او زغم دی.

په پورته غونډه کی دټولو وینا والو دځرګندونو څخه دا نتجه اخستل کیدای شې  چی دافغانستان دساتنی او سلامتیا پخاطر دټولو افغانانو وپوره یووالی او اتحاد ته ضرورت احسا سیږې  په افغانستان کی دټولو افغانانو دیووالی په باب د پاکستان مخکښه ورځپاڼه لیکونکی احمد رشید په ۱۳۱۰ میلادی کال داګست په میاشت کی په خپله یوه  مقاله کې د افغانستان د بیلا بیلو پخوانیو جهادی قومندانانو له خولې لیکي وو چې ګاونډیو  هیوادونو ورته د افغانستان د تجزیې ویلي و خو دوی ورسره نه و منلي ،احمد رشید په دغه مقاله کی ویلی دې چی شل کاله وړاندې دۀ ته جنرال رشید دوستم  ویلي و چې  د افغانستان د تجزیه کولو  روسي غوښتنه یې رد کړې وه، داحمد رشید دوینا پراساس جنرال دوستم ته روسانو  هغه وخت دا وړندیز وکړ چی شوروی لښکری له افغانستان وتلی روسانو  غو ښتل چی خپلی جنوبی پولی د افغانستان په تجزیه کولو وساتی خو جنرال دوستم ورسره نه وه منلې جنرال دوستم ویلی و چی که هر څوک د افغانستان دویشلو هڅه وکړی دی به یی ووژنی.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پاکستانی ورځپاڼه لیکونکی دا هم وايي چې د هزاره ګانو ګوندونو ته ايران ويلي و چې له ايران سره د هزاره جات لاره پیدا کړي او جلا شي خو هغوی هم دا وړانديز رد کړی و، احمد رشيد د قومندان احمد شاه مسعود په باب هم ويلی دی چې تاجسکتان ورته د لوی تاجکستان د جوړولو وړانديز کړی و خو مسعود ورسره نه و منلی.
دغه ژورناليست د طالبانو په برخه کې هم وايي چې د پاکستان آی ايس آی ورځخه د پښتني سيمو د جلا کولو غوښتنه کړې وه خو طالبانو هم دا وړانديز نه و منلی، د يادونی ده چی احمد رشيد دا مقاله په هند کی د امريکا ديوه مخکنی سفير دهغه وړانديز په ځواب کی ليلی و کوم چی ويلی و چی داوسنی افغانستان دحل غوره لاره داده چی افغانستان وويشل شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ